محمد اسحاق برکت
ویرجینیا - امریکا

۹ نومبر ۲۰۰۸

## لـــــنډۍ

## ستــــــرګي

ســــتر ګــــي مــي سرې لکه دزرکي
ترېنه چـــاپېر دي درانجوتور دېوالونه

******

خـال مـي تازه ســترګـي مـي تــورې
چـــي راته وګورې بېهوش به شي مينه

******

لاس دې پـــه ســترګو راتـــه مـه ږده
پلـمي به نکړې چي په غلا راغلي يمه

******

ستــر ګـي دومـــــــره اثــري دي
چي کوم طرف ته يې اړوم خلک سبزينه

******

دا ســـترګي ســترګـي ګناهګـــــارې
زړه چي مين شي سترګي څه ګناه لرينه

******

ســـرې چي ســترګوته مـــي ګــورې
دستـا د ميني په کې ډېر دي اثــــرونه

******

پــــرېږده چي دوه سترګي څلــــور شـــي
يا به پېغـــــور شي يا به مينه پاتي شينه

******

د تهمتــــونــو پـــــــــــرې باران وو
جـانان له شرمـه سترګې نه پورته کوينه

******

قــبر ســوری کړه حال مې ګـــــــــوره
په خماري سترګو مې پرېوتل ګردونـه

تــر بيا لنديو مو په لوي خدای سپارم٠ په درناوي